(c) ketabton.com: The Digital Library



د غـــرور مــــاڼـۍ رالــوېـدونـکـې ده دلـــبـره
خـوښ شـوم دا چـې خـپل بـاور تـه وفـــاداره شـوې

***

## پښــتانه

پــه نـفـــــاق ســوي پــښـــــــتـانـه دي لـکـه زه
هـــر ځـــای د تـــن پــه ویـنـــو ســره دي لـکـه زه

د بېـلـــتـون پـه لار دامــونـه ړدي یـو بـل تـه
د وحــــــــدت لــــه لارې کـــــا ږه دي لـکـه زه

د مــــــردانـــو زړه چـــولـــی نـــامــــردانـــو
پــه الــــمــونــو کـــې وراســـــتــه دي لـکـه زه

خــواخـوږي هـمــدردي نـشــتـه یـو تــر بـلــه
پــه تــش خـــــبـرو کـــې خــوا ږه دي لـکـه زه

د تـنــکـو زلـمـو پـه حـــال مـو خـوا بــدیــږي
چـې پـــه عــمـــرونـوکــې شـپـېـتـه دي لـکـه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سبا نه راځي

خوره تیاره ده دلته خدایه(ج) سبا نه راځي
ډېوه خاموشه شوله کور ته رڼا نه راځي

ماتم په ونو کړ دی د ځانگو ځرک نه لگي
د بلبلا نو آواز صفا صفا نه راځي

د خزان باد رژوي، رنگین گلونه د بڼ
غوټۍ د سرو گلو زموږ په خندا نه راځي

مجنون مزل کړی دی، تېرو اغزو د پاسه
سترگې یې دواړې ړندې ورته لیلیٰ نه راځي

گلاب، گلاب وزرو نه شول په اغزو کې سوري
د بوراگانو ټولگي بیا په نڅا نه راځي

د قربانیو لړۍ شوې تر ښارونو اوږدې
د ارمانونو جنډۍ په رپېدا نه راځي

مظلوم باور آشنا مې د غم په مخکې ولاړ
افغان ولس ته خدایه(ج) د ځرک آشنا نه راځي

